هفته نامه

مرآت الجهاد

د جهاد هنداره

لومړی کال ، (۱۰) ګڼه ، ۱۳۶۹هـ ش دعقرب (۳۰)

دمجاهدینودجګ خولو توپونو دډزو له املهٔ

په خوست کې یوه الوتکه ویجاړه شوه

میرانشاه ـ دعقرب ۲۳: له میرانشاه څخه په رارسیدلو خبرونوکې ویل شویدی چې قهرمانومجاهدینو په خوست کی ددښمن یوه انتونوف الوتکه ویجاړه کړیده .

خبرزیاتوی: دغه الوتکه چی له مهماتوڅخه ډکه وه غوښتل یی دخوست

به (۸) مخ کی

دشهیدجنرال محمد ضیاالحق دالوتکي غورځیدو دپېښې پلټنه له سره پیل شوه

نوائے وقت دنومبر ۱۹: دایف آی اے مرکزی تحقیقاتی اداری د پاکستان دپخوانی جمهوررئیس شهید ضیاالحق دتباه شوی الوتکی په هکله خپل تحقیقات بیا له سره پیل کړی دی .

به (۸) مخ کی

له کراچۍ نه خپریدونکی میاشتنۍ (صدای مجاهد)

دوسپنیزهود خاوند: مولانا جلال الدین حقاني

به (۳) مخ کې

له کویټي ځوانانو نه د څلوېښت زره کسیزپوځ جوړولو پریکړه

ابوظبی : له کویت نه تښتیدلو پخوانیو حکامودخپل وطن دآزادی لپاره دمهاجرو کویتی ځوانانو نه ځلوېښت زره کسیزه پوځ جوړولوپریکړه کړیده ، یوه پخوانی پوځی افسرخبریالانو ته ویلی چی مونږ به ډیرزرپه خلیجی ریاستونوکی له خوروورومهاجروکویتیانو نه دوی فرقی منظم پوځ جوړکړوچی په عصری وسلوبه سمبال وی. هغه وویل چی دلږنفوس درلودونکی هیواد نه څلوېښت زره رضاکارفدایانو راوتل لویه خبره ده ، دغه پوځ به په سعودی عرب

به (۸) مخ کی

نومیالي قوماندان قاري لعل محمد شهیدشو

دجهادهنداری خبریال : په ډېره خواشینی سره مو خبر واخیست چی دالحاج مولانا جلال الدین حقانی دجبهاتو یونومیالی قوماندان قاری لعل محمد دروان کال دعقرب دمیاشتی په (۲۶) دشنبې په ورځ په ډزوکی پشهادت ورسید . (اومونږ دخدای یو اودخدای لورته ورتلونکی یو ؟) مونږپه داسی حال کی چی دنوموړی شهادت



دجهاد اومجاهدینو لپاره د

به (۸) مخ کی

له کابل شوی کشمیر نه دواشنګټن پوست ورځپاڼې مفصل رپوټ

به (۵)مخ کی

PROPERTY ACKU

سرمقاله

وروستی فرصت-نوي امیدونه

څه موده مخکی دجهادی قیادتونو په سطحه دخپل منځی اتحاد په رابطه دنویو حرکتونوخبرونه خپاره شول- دمحترم صبغت الله مجددی اومحترم حکمتیارصاحب ترمنځ له تیرویونیم کال راهیسی دشدید مخالفت سلسله ختمه اعلان شوه اومجددی صاحب چی څه وخت وروسته په یوه مجلس کی له حکمتیارصاحب سره کیناستو ته هم حاضرنه ؤ له ښه بخته ددغو اختلافاتوپه ل، منځه ورلو سلاشو . داخبرونه دمجاهدینو اومهاجرینو له خوا چی دقیادتونو اختلافاتو په تیرو دوولسو کلونو کی ددوی هیلی اوآرزوګانی له روسی ظلمونو اوناکردو نه دیرځلې اوله ګنو مصیبتونو سره یی مخامخ کړی وواوسره لدی چی پخوانیو ستغو تجربویی دباوراواطمینان روحیه ښه زمولولی بیاهم هرکلی وشو اویو ځل بیا دا امیدرامنځ ته شو چی ګني داختلافاتو له لاسه دولس پر سر مسلط مصیبت به نورخپله لوغړنه کمپله تولة کړی .

که څه هم پخوا لدی څوځو وارد داډول حرکتونه دخوغوړاوګرمو میلمستیاواوتشریفاتی اومتحدالماله مجلسونوپه چوکاټ کی بیله کومې مثبتی نتیجی پای ته رسیدلی وو اوداځل هم دغه ویری دنویو امیدونو پرمرۍ کله ناکله خپلی منګولی ښخولی خوځرنګه چی حالاتواووضعی له پخوا زیاته نازکه بڼه غوره کړی وه اووخت اوفرصت په چټکی سره دیوه منفی جریان له پاره لاړپرانیستاه څکه

به (۸) مخ کی

ایا روسها واقعا ازافغانستان خارج شده اند نجیب به عساکر روسی اتکا دارد.

کنفرانس سالیانه «انجمن مطالعات شرقمیانه » درامریکا شمالی بتاریخ (۲۰) عقرب درشهرسنانتانیو ایالت تکزاس امریکا آغازیافت، این کنفرانس که همه ساله به اشتراك صدها دانشمند پیرامون قضایاواوضاع جاری شرقمیانه وآسیای جنوبی دایرمی گردد دانشمند ان روی

درصفحه « ۴ »

محمد ص وقرآن

«محمد وقران » نام کتابیست که بجواب کتاب کفر آمیزآیات شیطانی سلمان رشدی نگارش یافته است .

این کتاب که توسط

درصفحه « ۸ »

دنړیوال صهیونیزم یوه خطرناکه دسیسه

په (٦) مخ کی

له یوه مجاهد قوماندان سره مرکه

به (٦) مخ کې

دکوهستان ولسوالی آزاده شوه

دجوزجان ولایت دکوهستان په ولسوالی کی دمجاهدینواوګوډاګی رژیم دقواوترمنځ په نښتوکی ددښمن ټولی پوستی دمجاهدینو ترقبضی لاندی راغلي

به (۸) مخ کی

امریکا دعربو پر وسایلو قبضه لګول غواړي

عمان : داردن پاچا شاه حسین ویلی دی چی امریکااوروپایي هیوادونو دمنځني ختیځ په رابطه منافقانه پالیسی غوره کړی ده اوهغوی دعربو پر وسایلو اوامکاناتو قبضه لګول غواړی ، هغه دپارلمان په پیلیزه ویناکی داامید هم وښود

«شاحسین»

چی پر کویت دعراق له یرغل نه دراپیداشوی بحران اوپه دی رابطه داردن اوسعودی عرب اونوروګاونډیو هیوادونو ترمنځ راپیدا شوی اندېښنی اوخفګان به زرترزره ختم شی .

مردم کابل منتظر سرنګوني رژیم اند

ص ٦٠

ترڅوچې په افغانستان کې دمجاهدینو په لاس اسلامي حکومت نه وي جوړشوی له وسله وال جهادنه لاس اخیستل طاغوتي اوکفري طاقتونوته دتسلیمي معنالري!

د جهاد هنداره

مؤسس: الحاج مولانا جلال الدین حقاني

د تأسیس کال: (۱۳۶۹) هجري شمسي

روسیه گازافغانستان را به یغما می برد

سمیع الله «ستانه»

رادیو مسکو ضمن پخش مصاحبه نجیب رئیس حکومت کابل ازقول وی گفته است که متخصصین روسی غرض اماده ساختن زمینه برای ازسر گیری صدورگازطبیعی به روسیه، وارد افغانستان شده اند وبگفته رادیوی مذکورقراراست درماه دسمبر سه صدملیون مترمکعب گازبه روسیه صادرگردد.

گازیکی ازان منابع بزرگ است که روسها انرا به قیمت (هیچ) ازکشورما به یغما می برند. روسها ازاغازباین هدف بودند تابه تمام منابع حیاتی کشوردسترسی داشته وانها رادرمجرای وام های بی ثمر وبیهوده با خود برند چنانچه مردم مااسناد وشواهد بیشماری ازخیانت های نابخشودنی وبزرگ روسها به اقتصاد ملی مادر جریان سالهای قبل ازکودتای خونین روسی هفت ثور(۱۳۵۷) نیز بیاددارند.

اگر ما مشخصاً خیانت های سوسیال امپریالیست های روس رادربخش گازطبیعی افغانستان بررسی نمائیم می بینیم که به ارزش هزاران ملیون دالر گازطبیعی کشورما رابدون پرداخت قیمت برده است.

بخاطر توضیح حقایق درزمینه بهتر است به اعداد وارقام واحصائیه های موجودمراجعه کنیم، درگام نخست باید ازاین حقیقت متذکر شوم که روسها. درابتدای کاوشهادولت افغانستان راناگذیر ساختندتامتخصصین فرانسوی وسویدنی راکه اماده حفاری های جستجو یی درشمال کشوربودند، وارد آنجا نسازد زیراانها این امرراخلاف پلانهای شوم خویش می دیدندلذا روسها بحیث متخصصین برای تفحص وارد ساحه شمال افغانستان شدند که قبلاً توسط متخصصین ذخایر گازوپترول درانجا پیشبینی شده بود.

درسال ۱۳۴۲ نخستین ساحه گازدرخواجه گوگردك شبرغان کشف گردید که حجم آن بیش ازپنج صد تریلیون مکعب متر تخمین شده بود.

روسها با کشف این ذخیره بزرگ پلانهای راغرض انتقال به روسیه طرح کردند وبخاطر فریب جانب افغانی ظاهراً دلایلی اوردند که گویا مصرف ان درافغانستان اقتصادی نبوده بلکه بهتر است بخاك روسیه انتقال گردد تاافغانستان بتواند ازین مدرك اسعار خارجی بدست اورد.

کاراعمارپایپ لاین گاز به خاك روسیه درسال ۱۳۴۶ ختم ودرسال بعد ان افتتاح گردید افغانستان ازین منبع بزرگ انرژی خود صرف حق استفاده به چرخ اوردن فابریکه برق حرارتی سی وشش هزار کیلوواته راداشت وهم حق استفاده درفابریکه کودکیمیاوی به ظرفیت صد هزارتن رابدست اورد که مصرف سالیانه این دوفابریکه ازپنجاه ملیون مکعب متر تجاوزنمی نمود.

یکی ازنویسنده گان افغانی ضمن افشای خیانت های نابخشودنی روسها دربخش گاز به افغانستان با تکیه برارقام وفاکت های موجود واسناد معتبر دولتی گفته است درحوت سال ۱۳۵۶ یکی ازمتخصصین ملل متحد

درصفحه «۷»

روس ها براي هرهزارمترمکعب گازداراي جنسیت عالي افغاني ۵,۲ دالرقیمت تعین نموده اند درحالیکه ان را دراروپا به ۱۰,۵ دالر به فروش مي رسانند

دافغانستان رېږه اوډپاکستان اوروس ګډ قرارداد

لیك ایم طفیل جنگ ورځپاڼه

په دې ورځوکې دملګروملتودسازمان عمومي اسامبلې بیله څه بحث اوجنجال څخه دروس اوپاکستان له لورې هغه وړاندې شوې مشترك قرارداد دراېو په اتفاق سره تصویب کړ چې یکې دافغانستان پر ټولو اړخونو زورلګول شوې چې له جګړې اوتېکرنه لاس واخلي ترڅو دافغانستان دربړې یوه داسې سیاسي حل لاره ومونډل شي چې دافغانستان دخلکوټولو ډلو ته دمنلووړوي. دغه قرارداد دعمومي اسامبلې «۱۵۹» غړو په اصطلاح دیوه پراخ بنسټیز حکومت دجوړولولپاره زرترزره په خبرواتروتاکید شوې دی - اوپکې ویل شوي چې یوداسې «پراخ بنسټه» حکومت دداسې جمهوري اصولو له مخې راتلې شي چې افغان ولس وربانډې خوښ اوراضي وي - په دې جمهوري لاره کې انتخابات هم راتلای شي په دې پریکړه لیك کې دافغان ولس دخپلواکې تاکید اوحق هم تسلیم شویدې چې له هغې نه په استفادې سره کولې شي دخپلې خوښې

کله چې همدغسې دخپلواکې غوښتنې غورځنګ په آذربایجان کې پیل شو نه یوازې امریکاورباندې چوپه خوله وه بلکې روسي پوځونو دغه غورځنګ اودازادې ناره دټانکونو ترچینو نو لاندې لتاړکړه اوپه زرګونو تنه مسلمانان دروسي پوځونو په لاس شهیدان شول.

اتفاق سره تصویب کړ.

عمومي اسامبلې پردې خبره هم زورواچاوه چې دافغانستان دمسئلې دسیاسي حل لپاره ضروري ده چې دافغانستان خپلواکي هم خوندي وي، سیمه ایزامنیت هم وساتل شي، دافغانستان سیاسي آزادي، ناپیلي حیثیت اواسلامي تشخص باید اعاده اوپرځای پاتې وي په دغه پریکړه لیك کې حکومت جوړکړې اوداسې حالت رامنځ ته شي چې په بهر کې پراته پنځوس لکه افغان مهاجرین بیرته خپل وطن ته ستانه شي.

د(۱۹۸۸) کال د اپریل په (۱٤) مه دجینوا معاهده لاسلیك شوه چې دهغې په نتیجه کې روس له افغانستان څخه دخپلو پوځونو ایستلو ته راضي شو.» روسان دافغانانو دقهرمانانه

په (۷) مخ کې

دقوماندانانو شورا ځکه دېراهمیت لري چې دافغانانو پخپل ابتکارجوړه شوې اوهیڅ بهرني قوت یې په جوړولو کې لاس نلري

ریچاردمکنیزی مشهورامریکایي ژورنالست

(ریچاردمکنیزی) چې دافغانستان دمقاومت په اړه یې ګڼې لیکنې کړېدي دافغانستان دجهاد دقوماندانانو دشوراپه هکله په خپله یوه تحلیلي لیکنه کې لیکي: زما په عقیده ددغه شورا جوړېدل دېره لویه خبره اودمقاومت یوه ستره کامیابي ده چې دافغانستان په جنګ کې له اساسي اوضروري ګامونوڅخه ګڼلې شي.

زه شخصاً پدې نظر یم چې دقوماندانانو شورا له افغانستان څخه دروسي پوځونو دوتلو په څیریوه مهمه اوتاریخي پېښه ده.

یوبل پوځي مشاور(دیویدایزبي) چې دافغانستان انکشافات له نږدې څخه څاري لیکي: دقوماندانانوشورا ځکه دېر اهمیت لري چې له یوې خوا داشورا دافغانانو پخپل ابتکار جوړه شوې اوهیڅ بهرني قوت یې په جوړولو کې لاس نلري اوله بلې خوا پدغه شورا کې دمجاهدینو سترو اوبریالیوقوماندانانو برخه اخیستې اودګړو پریکړو په صادرولو بریالي شویدي.

نوموړي زیاتوي: دقوماندانانو شورا دافغانستان دبحران دحلولو په لار کې قاطع رول لوبولی شي.

له بلې خوا څنګه چې دجهادقوماندانانو دپېښوردمشرانو له مشورې پرته دغه اقدام کړې داپخپله ددغه شوراحیثیت اواعتبار نورهم پیاوړې کوي.

اودوی ته دا زمینه برابروي چې هم دسیاسي قدرت اوهم دپوځي طاقت په توګه میدان ته راووځي.

نوموړي لیکي: داشورا باید خپل نظامي عملیات منسجم کړي او یوه سیاسي جبهه ولري اودا ثابته کړي چې سیاسي کارونه کولی شي اودکابل له رژیم څخه دقدرت اخیستلو اوچلولو توان لري.

نوموړي زیاتوي: کله چې مجاهدین داوښیي چې دکابل رژیم له سقوط وروسته په متحده توګه دهېواد دادارې صلاحیت لري نوبیا دکابل رژیم داخبره نشي کولی چې هغوی قدرت چاته پریږدي؟

دوسپنیزهوډخاوند :
مولاناجلال الدین «حقاني»

له کراچي نه خپریدونکي میاشتني (صداي مجاهد) د(۱۹۹۰) میلادي داکتوبر په ګڼه کي دښاغلي محمد مسعود اظهرپه قلم د(مردآهن مولاناجلال الدین حقاني) ترسرلیك لاندي یومضمون خپورکړي چي موږيې پښتو ژباړه درنولوستونکو ته وړاندي کوو . «اداره »

دمولانا جلال الدین حقانی په نوم اخیستو د ذهن په پرده دیو داسی شخصیت تصوردسړی زړه روښانوی دچا چی دعلم اوسلوك دتپولو پړاوونووهلو سره سره سنګرونه او دجنګ دګرونو خپل استوګنځی غوره کړی وی سره بخونه ګڼه اوښکلی ږیره ،غنم رنګه با وقاره څېره ، ولول غټه پګړی په سر،میانه قد ، متناسب بدن ، پرتتر همیشه دکارتوسوکمرلاوپه څنګ دتل له پاره وسله .

مولانا جلال الدین حقانی داوسنی وخت دهغو نابغه شخصیتونوڅخه دی چاچی ترټولو دمخه دکمونیزم اوروسانو دظلم اوناروا پرضد غږ پورته کړاودهجرت اوجهاد ددرسونو اوعبرتونو په راژوندی کولو سره یی دنړی لوی استعماری اومادی ځواك له شرمیدلی ماتی اورسوایی سره مخامخ کړ.

مولانا جلال الدین حقانی یوخدای ترسه انسان ، ددین متبحرعالم ، دمیړانی اواسلامی اخلاقو پیکر چی دزړورتوب اومیړانی نښی یی له څیری له ورایه ځلیږی دعبادت اوبنده ګی اخلاص یی دړومبي پیړیه دمسلمانانو یادونه تازه کوی ، دجنګ دډګر دکارنامو اوحماسو په اوریدوسره یی دخدای پر نصرت اوفتحی نورهم دانسان باورپیداکیږی ان تردی چی دمولاناجلال الدین حقانی دجګړه ایز مهارت او میړانی په کارنامو ګرده عربی نړۍ دده احسان منده اودجهاد پر کراماتو ګروهمنه شویده له همدی امله هغوی له مولانا حقانی سره ډیره مینه لری .

مولاناحقانی خپل جهادی سفر له خپلو یوځوتنوملګرو سره دپکتیا له ولایت نه پیل کړ او په ډیر ستونزوروشرایطو کی یی دځښتن تعالی دغه فریضه راژوندی کړه ، اووحشی دښمن یی داوسپنو چنو چیچلوته مجبورکړ حقانی صاحب دګوتو په شمیر له خپلو یوځوتنو ملګرو سره دپکتیا په غرونو اومورچوکی دحق دمعرکی لومړنی ګولۍ وچلولی اوس دغه جنګیالی اومجاهد دزرګونومسلمانو مجاهدینو منل شوی اومدبر قوماندان دی اوپر خوست برسیره په غزنی ، وردګو ، هرات ، اوجلال آباد کی هم دهغوی مجاهدین ددښمن مقابلی ته ولاړ دی ، په پو ځوزړوتوپکو له روس مجهزپوځ سره د دغه راسخ العزمه جنګیالی اوس له روسانو څخه دومره وسلی په غنیمت نیولی چی یواځی په یوه مرکز کی یی پنځلس روسی ټانګونه موجوددی

دمولانا حقانی دجنګی بصیرت اومشرتابه اټکل دتوری غاړی له فتحی نه په ښه ډول څرګندیږی توره غاړه دکابل حکومت هغه پوځی قرارګاه وه چی هغه یی نه تسخیریدونکی ګڼله نوموړی قرارګاه له تیرو لسو کلونو دمجاهدینو لپاره یوه غټه ستونزه اوخنډ دمولانا جلال الدین حقانی په همت اومیړانی دغه قرارګاه په ډیره اسانی سره فتحه شوه اودکابل حکومت پر خوله یی یو داسی سوك ورحواله کړ چی ترمرګه به یی هیرنکړی .

دیادولو وړخبره داده چی کله توره غاړه فتحه شوه نو دفتحی په وخت کی نیول شوکمونستو پوځیانو دداسی کراماتو لیدلو اقرار وکړ چی هرمسلمان بی له څه ځنډه اقرار کوی چی الله (ج)زمونږ مل اومرستندوی دی څه موده وړاندی دمولانا جلال الدین حقانی کشر ورورقوماندان محمد اسمعیل ذبیح الله چی دخپل مشروروړپه لارښوونه یی دیوی سیمی قومانده په غاړه درلوده شهید شودخپل زلمی اوزړه ور وروروړپه شهادت دمولاناحقانی صبر اواستقامت دیادولو وړ ۆ هغه په ډیره ډاډمنه لهجه ویل چی الله پاك پر ما یوبل فضل وکړ یوبل احساس راباندی وکړ چی زما وروریی دخپل دین په خاطر ومانه .

مولانا حقانی نن هم دخپل مدبرانه قیادت له مخی دخوست په محاذ کی ټینګ ولاړدی او ورځ په ورځ یی جنګی عزم اوقوت لازیاتوالی مومی .

ایا روسها واقعاً ازافغانستان خارج شده اند ؟...

موضوعات مختلف سخنرانی می نمایند .

دربخش ازدوجلسات جاری روی وضع جاری واینده افغانستان نیزصحبت شد که رادیو صدای امریکافشرده انرا انتشارداد .

یکی ازسخنرانان پیرامون اوضاع افغانستان «رالپ مکنس»استاد مطالعات عالی قوای بحری امریکا بود که بیانیه خودرا با بن جمله پرسشی که : ایا روسها واقعاً ازافغانستان خارج شده اند ؟ اغازنمود .

وی درجواب به این پرسش گفت: بلی قوای رزمی روسی ازافغانستان خارج شده اند ولی حکومت کابل هنوزهم به کمك مالی روسیه ادامه دارد مشاورین نظامی روسی درکابل موجود بوده ودرساحات مختلف بخصوص دراستعمال راکت های (سکاد) با حکومت کابل همکاری می کنند وحتی راکت های مذکوررانیزفیرمیکنند.

مکنس براساس معلومات بدست داشته اش گفت : داکتر نجیب بخاطرحفظ قدرت بیش ازهمه به عساکر شوروی متکی میباشد .

وی علاوه داشت : شوروی بررهبري دستګاه (کی ، جی ، بی) ازاسیای مرکزی یک اردوی ده هزارنفری رابه افغانستان فرستاده است . همچنان کی ، جی ،بی یک تعداد زیادافرادازملیت های ازبك وتاجیك اسیایی میانه رادردسته های کوچك درمناطق محلی شمال افغانستان نیزجابجا نموده است .

وی افزوده است هدف این جابجاسازی اینست که درصورت سقوط حکومت نجیب دسته های مذکوردراتحادباهمکاران حکومت کابل جنگ چریکی راآغازوآنرا ادامه بدهند .

مکنس گفته است : پالیسی روسها درافغانستان رادستگاه کی ، جی ،بی ومشاورین نظامی آنها پیش می برند که ساحات مختلف رادربرمی گیرد

ولی کی ، جی ،بی از قدرت وصلاحیت بیشتر برخوردارمیباشد .

موصوف علت این امررا درین واقعیت دانست که داکتر نجیب خود پولیس مخفی ودارای سابقه طولانی دردستگاه کی ، جی ، بی میباشد .

وی دررابطه به معاونت مالی شوروی با رژیم کابل گفت ازاموال امدادی روس ها صرف برای تأمین مردم مناطق تحت اشغال رژیم کابل استفاده نمیشود بلکه ازان بخاطرایجاد تفرقه ونفاق میان دسته های مخالف نیزکارگرفته میشود .

موصوف نتیجه گیری میکند که دلیل عمده ادامه حکومت نجیب معاونت بی حد وحصر روسها بان رژیم میباشد اماعده دیگراشتراك کننده گان عدم اتحاد رهبري جهاد رانیز درین امرمشتمل دانستند .

> شوروي بررهبري دستګاه کي ،جي ، بي ازاسیاي مرکزي یك اردوي ده هزارنفري رابه افغانستان فرستاده است همچنان کي ، جي ، بي یك تعداد زیاد افراد ازملیت هاي ازبك وتاجك اسیاي میانه را در دسته هاي کوچك درمناطق محلي شمال افغانستان نیز جا بجا نموده است .

په ایوډیا کې به دجومات پر ځاي درمسال نه جوړیږي

نوی ډیلي دنوامبر ۱۸مه :

دهند نوی صدراعظم چندرشیکرقوم ته په خپلی لومړی وینا کی وویل چی په ختیځ پنجاب اوکشمیر کی ځنی مسئلی شته چی پرهغی څه ګړبړروان دی ، هغه دپنجاب اوکشمیر ځوانانو ته په پیغام کی وویل چی دخبرو اترولار خپله کړي اووسله په ځمکه کیږدی ، چندرشیکر دبابری جومات پرځای دمتعصبو هندوانو لخوا ددرمسال جوړولو دتصمیم په باب «چندرشیکر» وویل چی د مذهب ترنامه لاندی وژنه ګناه ده ، دجومات پر ځای به درمسال نه جوړیږی اوددی ستونځی لپاره به یوه نوی مناسبه حل لاره لټوو ، باید زیاته شی چی دوی پی سنګ حکومت دړنګیدو له دووستروعواملو څخه یودبابری جومات مسٔله وه اوبل ټیټ ذاتوهندوانو ته دزیاتو ملازمتونو اعلان ، خو اوس پخپله شیکر هم دبابری جومات دنه ړنګیدوخبرې کوي .

جهادي ادب

تیغ کې دې ځلا د فاتحانو دغیرت وینم
بیا دې شاهینی سترګو کې نور د حریت وینم
ته یې د دې خاورې ازلي او ابدي وارث
بیا دې د تاریخ په تندي نوم د عظمت وینم

سیداسمعیل فاطمي

غوره خبري

- ددولت هیله انسان ذلیلوي .
- ځوك چې په سینې کې رازنه شي ساتلی هغه له ستونزو سره لاس اوګریوان وي .
- دچا زړه مه خپه کوئ چې دهغه اوښکې به تاسو وځوروي .
- عزت دښو اخلاقو زېږنده ده .

لنډۍ

ځوك په وطن بیا تیـــوتي توتي شول
ځوك دشهید په وینو کړي تجـــارتـــونه
مجاهد بیا تعـــرض تـــه ولاړل
روسان بربیتونه په کـــوځو کې تاووینه
خدای چې په چا باندې عاشق شي
یا بي شهید یا مجاهد دسـنګر کیـنـه
چې ځوك مـین په پاك اسـلام وي
هغه به عمر په سنـګر کې تیـروینـه
ستا دزیـړي راکـټ نه حـارشم
چې له لبوبی سره روسان کړي فریادونه
رالېږونکی: سالم خان صابر

غلیمان شرم

شفیقي

پرېږدې مې ږده ، پرېږدې مې ږده یوازې چې لېوان مې وخوري
چې ستا زړګی را باندې یخ شي سناماران مې وخوري
ستا د جفا کیسه به لیک شي د تاریخ په لمـن
پرېږده چې ما توټه توټه کړي خونخواران مې وخوري
زما په مرګ به ویده شوي ضمیرونه پاڅي
له توپو وینو به مې ببرته سرومو جونه پاڅي
د وینو ضمیرلمن به نیسي زما د وینو څاڅکي
پر سپین پوکر به فیصله د عدالت غواړي
زما توټې توټې هډوکي د ي پیغام یوسي
د خدای په درګې به ابرو د انسانیت غواړي
زما قربانی به د یاڅون لیکوته سا ورکړي
لکه ځوک سترې ته په لاره کې امساورکړي
زما په څاڅکي څاڅکي وینې به جنډې رپېږي
چې د تاریخ په سینه خلکو ته یادګار جوړ شي
ته د قیام د لیکو شرم نه یې پت او شرف
ته به ورکېږې زما په نوم به لوړ منار جوړ شي
زما دوینو په سر لیکه به کاروان جوړ شي
چې پرې تقدیر د دغه وران ویجاړ جهان جوړ شي
ته له غلیم سره کینه خپل سا نشو نه کو .
نه د ملت له پاك حریم نه غلیمان شـــرم
دسترګو لاندې نه شیطان ته اشارې ورکوه
نه د امت له غیرې واړه شیطانان شرم
نو !
پرېږدې مې ږده - پرېږدې مې ږده یوازې چې لېوان مې وخوري
چې ته پټ پټ ورسره خاندې هاشیطان مې وخوري

د روس اېجنټان

تپوس مه کوه د روس د اېجنټانو
هریو سپر دی که دې کېښودو په تله
په مرګ ژاړي د غریب ، په زوره زوره
او غریب ته یې بم ایښی وي پخپله

قمرمارزی

جهادي ټولګور

وائي د یوه نفر ښځه خر تښتېدلی ؤ منډې وهلې چې هغه راګیر کړي ، په لاره کې یې یو نفر مخې ته ودرېد: وروره څه خبره ده؟ ده په وار خطائی ورته وویل : پوښتنه مه کوه خر راښځه تښتېدلی

لاروی په ورین تندی ځواب ورکړ: نو ته دې خواته منډې ورپسې وهی تورخم ته لاړ شه که یو وار د پولې واوښت بیا به ماشینی ضابط شوې وي .

نیاز ولی

دولسي ادب په ورانګرکي

په وطن باندې مې بلی سری لمبی د ی الله
ونی غنی دشهید په وینوسری دی الله
دسروو وینو سیلابونه دی بهیـــږی کنه
ښکلي ورکی شهادت باندی رسیږی کنه
یتیـمان موبل وطـن کی پاتی کیږی کنه
ماشومان راته په سرو سترګو ژړیږی کنه
دبابا نعری وهی پلاریی یادیږی کنه
خپل بابا تـه کوی غږ سوری نعری دی الله
ونی غنی دشهید په وینو سری دی الله
دوطن په جګو غرو کی لګیدلی دی اورونه
بانډو کلیوکی یی روان دی دوینو سیلابونه
په توپو په ټانکو رنګ شول زمونږ ښکلی جوماتونه
په سنګروچلوی دبی-ام (۱۳) غوندی توپونه
په هوا کی کرنګهار دی راځی جیټی هم جهازونه
غورځوی په مجاهدو دنیپالم داوریځونه
دنیپالم بمو باران دی ګلی ګلی دی الله
ونی ، غنی دشهید په وینو سری دی الله
دوطن په پاکه خاوره باندی نن بیا دسرو ننګ دی
مجاهدو زرورګوکی غیرت وینه په غورځنګ دی
پرچم تختی اوریدلی داسلام دتوری شرنګ دی
که خلقی دی که پرچم دی نن دخپل ژوندون نه تنګ دی
مجاهدواړه نشه دی ښکلي دوي اسلامي بنګ دی
په قرآن کوی غیرت چی داسلام دکفر جنګ دی
لاندی ځمکه تکه سره ده پاس آسمان په وینو رنګ دی
په قرآن زمونږه خپلی بهروسی دی الله
ونی غنی دشهید په وینو سری دی الله

غوټه

لنډه کیسه

لیکونکی :عوض الدین «صدیقی

رنګ یې تك زېړاوښتی ؤ شکیدلی ، شکیدلی او په خاورودوړوککړکالی یې اغوستی ؤ بدرنګه خړ پکول یې پر سر ؤ، پر خاورو ډك مخ یې خولې داوبو دویالی په شان راروانی وی ، پرڅادر به یې دمخ خولی پاکی کړی اوګامونه به یې لاګړندی کړل ، دخلکو په ګڼه ګوڼه کی داسی بی پرواروان ؤ ، تابه وی چی په یوی پراخی دښتی کی دمنزل پر لورمزل کوی، دسترګو پردی یې دخواړه زوی «کریم »غم اوناروغی رانغښتی وی ،دهغه فریادونه

یوی میاشتنی ملاریا اودتیری شپی داوړه شان تودی تبه یی سترګو ، سترګو ته کیده، دځان سره به ویوګنید:

کریم جانه ! چی ناروغی به دی ځنګه وی .... دی ناروغی خو سخت بته کړی ......

تنده به یی وغوړیده څادرباندی به یی دمخ خولی پاکی کړی او وروشانی به یی شونډی سره خلاصی شوی :

نن به دی په خیرواکټر ته بیایم !!...... که دخدای خوښه وه روغ به شی اوبیا به خپله مستی کوی

!!!! ... لاسونه یې یوی بلی خواته وغورځول ،ګامونه یې ګړندی کړل نیغ دیوه لاروی مخی ته ودرید.

وروړه ! ځوبجی دی؟!

لاروی ورته ځیرشو،سرتر پښو یې له نظره تیرکړ وروشانی ځواب ورکړ:

څلوربجی دی ...!!

سریې و ښوراوه په څادرباندی دمخ خولی پاکی کړی او بیرته رهی شو دبازار په ګڼه ګوڼه کی به یې کله له یوه سره اوړه ولګیده کله دبل سره ، دهرچاسره به یې چی اوږه

پاتې په (۵) مخ کې

دحقى لارى مجاهد

ادبي [illegible]

هاشمی

که دژوند په هره لحظه یې یوعالم ګړاوونه مله دی ، خونـهـیـلـی اومایوسی یې زړه ته لارنه شی پیدا کولی ویره ، تردداوبئ همتی ورته دناکامی سترعوامل ښکاری اودایمان اوعقیدی په کارنده وسله دهرزورګیر مقابله کوی، دم او قدم یې دپرتم اوعظمت څرګندوی

اودثبات اواستقامت غوره بیلګی (نمونی) دی .

دالحاد،فساد ،ظلم ، وحشت اواستکبار مقابلی ته دایمان په قوت راپاڅیدلی اوپه دې سپیڅلی لارکی دهرډول ستونځو زغم ته حاضردی .

مادي هوسونوته یې شا اودالهی ازموینی

ډګر ته یې په میړانه وردانګلی دی . دباطل پرضد دحق سنګرپخپلو وینو تود ساتلی اواتلوالـه دفاع ترې کوی.

خپل ژوند یې یوازی اویوازی دخدای (ج) درضا لپاره وقف کړی اوپه دغه لارکی دشهادت لیوال دی.

ددښمن هری وسلی

پاتې په (۵) مخ کې

هندي پوځونو په نیول شوي کشمیرکي په زرګونوکورونه سوځولي دي

واشنګټن پست په خپله یوه وروستۍ ګڼه کې دکشمیر په باب یو رپوټ خپورکړی چې په هغه کې لیکل شوي چې هندي پوځونودکشمیر دآزادۍ غورځنګ په وړاندې له ناکامۍ وروسته دکورونو اودوکانونو په سوځولو پیل کړی ، هغوی په لسګونو کسان وژلي اوپه روانه یخنۍ کې یې په زرګونو خلك بې کوره کړي دي ، داخبارخبریال له اننت ناګ «نیول شوي کشمیر » نه په یوه اوږده لیك کې ویلي چې په سرینګر ، اننت ناګ ، هندواړه ، سوپوراودنیول شوي کشمیر په نورو ښارونو کې په تیرو څومیاشتو کې ډیر داورورته کولو پیښې شوې ، خبریال دځای خلکو له خولې لیکي چې کله دآزادۍ دلارې مجاهدینو پر هندي پوځونو یرغل وکړي هندي پوځونه دهغې په بدل کې دولس کورونو اودوکانونو ته اوراچوي وړاندې لیکي چې په کشمیرکې اوس لږ ترلږه په اوونۍ کې یوځل داوربلیدلو مرموزه پیښه رامنځ ته کیږي - او وروستۍ دغسې پیښه داکتوبر په میاشت کې وه چې لږترلږه دوه لکه خلك پکې اوسي دیوې پیښې دعیني شاهدانو په حواله لیکي چې پر هندي پوځونو له یرغل نه دوه ساعته وروسته په «چاینا چوك»کې اوورولګید کله چې خلك راغونډ شول ګوري چې هندي پوځونو په نوروماڼیو هم پټرول شیندي ترڅو دا وړلمن پراخه شي کله چې له هندي پوځونو نه وپوښتل شول چې داکار ولې کوي ورته وویل شول چې دا ستاسو آزادي ده دخپلې آزادۍ ننداره وکړي .

خبریال لیکي چې چاینا چوك یوه ورځ وړاندې دړوند له ګڼې ګوڼې ډك ؤ اوس په یوه سوځیدلې خاموشه کنډواله بدل شوی - په دغه ځای کې سل کورونه په لسګونو دوکانونه اودرې جوماتونه سوځول شویدي ، خبریال زیاتوي چې په مسلمان میشتو سیمو کې دغه دسوځولو پیښې دیوې نوې کورنۍ جګړې اوربلیدو نښې ښکاروي ، دخبریا ل له خولې په روان کال کې دوه زره کسان په نیول شوي کشمیر کې وژل شویدي ، خو دهندواکمنو له هغې څخه خپله ناخبري ښودلې ، هندي واکمنو ادعا کړې چې کله کله امنیتي قواودخپل ځان ددفاع په خاطر امکان لري ډزې کړې وي اوڅوك یې وژلي وي ، هغوی دانه مني چې هند ي پوځونو په نیول شوي کشمیر کې په لوټ ، تالان اوقتل عام لاس پورې کړی.

****

دموساد یوغړي پټ اسرار رسوا کوي

دملګرو ملتونو دامنیت پوځ کاناډايي پوځیان له«موساد» سره اړیکې لري

ژباړه :«صدیقي»

په دي وروستیو ورځو کي په امریکا کي د « دوکه ورکولوکور » په نوم یو کتاب چي داسرائیلو دجاسوسي سازمان په اړه لیکل شوي چاپ شو، دکتاب لیکونکي د «کاناډا » یو اوسیدونکي «باوستهرووکي » دی چي دیو ژورنالست (کلیبر) په مرسته یي دغه کتاب تکمیل کړي ،داکتاب د «موساد »دجاسوسي سازمان داخلي مسایل افشاً کوي که څه هم چي اسرائیلو زیات کوښښ وکړ چي ددغه کتاب دخپریدو مخنیوي وکړي خوداکتاب په یوه چټك اوپټ ډول خپورشو .

دکتاب لیکونکي «وکټراوستهرووکي » په خپله د «موساد » غړي ؤ هغه وايي د «موساد »غړي اکثره د «کاناډايي » پاسپورټونو څخه استفاده کوي .

هغه وايي : اسرائیل په خپله هم «کاناډايي » پاسپورټونه جوړوي هغوي دخپلو کیمیاوي ماهرینو په وسیلي سره د «کاناډايي» پاسپورټ کاغذ تجزیه کوي ، اودکاغذ تر معلومولووروسته دهغه په چاپولو باندي لاس پوري کوي «سترووکي » وايي : د «موساد » جاسوسي سازمان دکتابخاني په شان یوه لویه خونه لري چي پکي دبیلا بیلو هیوادونو په زرګونو پاسپورټونه ایښودل شوي هغوي پردي سربیره پر پاسپورټونو باندي لګیدلي مهرونه هم چي د «موساد » غړي دجعلي پاسپورټونو په جوړولو کي تري کاراخلي .

په دي کتاب کي د «موساد » زیات پټ رازونه افشاً شوي دبیلګي په ډول:

١- دکاناډا ځني هغه پوځیان چي په ملګروملتوکي دامنیت د ټینګولو په پوځ کي شامل دي د «موساد » غړي دي .

٢- «موساد » په لند ن کي د(٧) زرو په شا اوخوا کي غړي لري .

٣- د «موساد »له غړو سره په اروپا کي دغتو هوټلونو دکوټو کلي شته

٤- «موساد »داسرائیلو بوئینګ (٧٠٧) الوتکه د «ائرلیند »دهوايي کمپني «ایرلنکس » په ډول رنګ کړه اووروسته یي له هغي څخه دعراق داتومي مرکز په تخریبولو کي کارواخیست

٥- «موساد »په عربي اواسلامي هیوادونو کي دفاسدو اوښایستوښځو له لاري یوه اومطرح کسان ترخپل تأثیر لاندي راولي .

٦- «موساد » په اکثرو هیوادونوکي دتروریستي ډلوسره روابط لري .

٧- موساد په خپله دتروریستانو دروزلو ځانګي لري . کتاب په همدي ډول د «موساد » زیات پټ اسرار افشاً کوي.ویل کیږي چي اسرائیلو ددي کتاب په مقابل کي عکس العمل ښودلي اودایي بې ځایه پروپاګنډ بللي دي خوکه داکتاب بې ځایه پروپاګنډ وي نوبیا ولي څاوني وړاندي د «موساد » دروغږو د «اوتاوه » په سیمه کي د «اوسترووکي » په کورکي هغه ته اخطار ورکړ چي که دکتاب خپ ول بې بندنه کړل راتلونکي خطر ونوته دځان چمتو کړي ؟

«اوسترووکي » د «موساد » درسواکولو په ترڅ کي لیکي : دوي تل خپلو غړو ته دخاص فسادلپاره میلي جوړوي په دي میلو اوخاصو غونډو کي کاملاً آزادي وي ښایسته ځوني وي اوپه هغو کي بیا داسي فساد پیل شي چي انسانیت څه چي حیوانیت له چوکاټ څخه هم ووځي .

«اوسترووکي » دکتاب په ادامه کي لیکي : په خارجي هیوادو کي داسرائیلو سفیران حتماً د «موساد » غړي وي .

«اوسترووکي » په خپل کتاب کي د «موساد »ډیر پټ رازونه افشاً کړي هغه وايي ! «موساد » ښه ماهر اوتکړه قفل خلاصوونکي لري ، په انګلستان کي دقفل جوړولو فابریکه چي کله نوي قفل جوړکړي دمخه تردي چي هغه بازارته راوباسي د «موساد »لاس ته ورغلي وي اوهغوي ځانته دقفل دخلاصولو ټولي لاري معلوموي .

د « اوسترووکي » دي کتاب په اروپا-یي هیوادوکي یوه غوغا راپورته کړي اواسرائیل بې داسي وارخطا کړي اوس هغو ي په دي لټه کي دي چي له هري لاري وي دا کتاب له منځه یوسي .

******

دحقې لارې...

اوسیلی ته یې خپله ایماني جذبه سپر کړي اوپه مادي امکاناتو یې زړه نه دی تړلی .

دتکبیرپه ملکوتي نارویې ددین اووطن پر دښمنانو لړزه راځي اودملحدینو دشر اوفساد سنګرونه یوپه بل پسې نړیږي .

دوخت دیو ستر شیطاني اوطاغوتي ځواك په وړاندې دمقاومت هرې کارنامې ته یې نړۍ ګوته په غاښ ده ، مظلوم اوښکیل شوي ولسونه یې دظلم اواستبداد له منګولو څخه دځان دخلاصون لپاره سرمشق اودعبرت درس ګڼي .

دمقدس جد وجهد په لارکې ستړیانه پیژني اونه یې دامکاناتو کمښت په هوډ اوعزم کې بدلون راوستلای شي .

خپل هربري اوفتحه الهي نصرت اورحمت ګڼي اوهدف ته درسیدلو په لارکې نسبي ځنډونه اوخنډونه ورته دالهي ازمویني پړاو ښکاري .

ددښمن هرې توطئې اودسیسې ته ځیراوداسلامي پوهې اوبصیرت په رڼاکې دهغې دبې اغیزې کولو هڅه کوي.

دجهادپه سنګر کې له بل هرځای نه مطمئن بریښي اوهغه دخپل روحي تسکین یوازینی منبع اومرجع ګڼي .

له چا نه دستا ینې اواعزازهیله هم نلري اونه یې دریا اوتظاهرلپاره ددومره سترمسئولیت دسرته رسولوهوډکړی دی .

دخدای (ج) رضا اودکلمې لوړتیا یې ستر هدف اوداسلام حاکمیت یې یوازیني هیله ده .

غوټه...

ولګیده هغه به بد، بد ورته راولیدل ، دځان سره به ویوګنید: لیونی دی ؟!...خپل تګ ته یې پام نه وي ....

خوده هیڅ شی ته پام نه وه ، داسې ګړندی روان ؤ چې فکریې کاوه په دې لاره له ده پرته څوك نه دي روان ،غوښتل یې دسړك هغې خواته واوړي چې دیوه بایسکل والاسره ټکرشو ، بایسکل سره یې څښتن یې ولوید یو غالمغال جوړشو دبایسکل څښتن پرې راوګواښید:

لیونی یې ؟! .... لارې ته ګوره....

خلك یې شااوخوا ودریدل،چابه دبایسکل څښتن ته ویل:

خیردی !!!....چابه ده‌ته ویل :لږلارې ته ګوره ....

خوده سرټیټ اچولی ؤ ،هیڅ یې هم ونه ویل ،په خپلې چوپتیا سره یې هغه د زړه په غوښتنه پوه کړ ، بایسکل والا خو څوسپوری ستغې ورته وویلې ،کالی یې ټك وهل ،پربایسکل سپورشو او رهي شو ،ده هم سر وخوزاوه ،له خولې یې سوړاسویلی ویوست :

توبه ...توبه ...خدایه ته مو ثوب وکړې !!

خپل مزله ته یې دوام ورکړ، بیاخپلو چرتونو دځان سره لاهو کړ:

ماخوورته وویل زه به دماذیګرڅلوربجې راشم او کریم جان به ډاکټرته بوځو ،اوس لکه چې دلته راباندې پنځه بجې شوې .....آه خدایه ! چې دکریم ناروغي به څنګه وي.

هغه په همدې چرتونو کې ځان داشنغرۍ دبسونو تم ځای ته راورساوه ، دهر موټر کلینډرپه چې غږکړ:

بورډ....تهکال ....کچه ګړۍ....

ده به ورمنډه کړه زیاتره موټر به ډسې ډك ؤچې دپښې ایښودلو ځای به پکې نه وه،موټر به چې تم ځای کې ودرید ،ده به ورمنډه کړه خو بیرته به نامراد ترې راستون شو ،اندیښنه یې لازیاته شوه ، دوه ، درې ګامه یې واخستل او نیغ دیوه نفرمخې ته ودرید :

وروره اڅوبجې دي؟!

هغه چې دده خیرنو او شکیدلو کالیو ته ولیدل په خوږه لهجه یې ځواب ورکړ:

کاکاجانه ! پنځه بجې دي ...!!

دخولې څخه یې سوړاسویلی ویوست :

یره ناوخته شو....

مخې ته یې موټر ودرید ، په موټر کې یې دیو دوتنو دودریدو ځای ولید، ورمنډه یې کړه او نیغ وروخوت ، په موټر کې یې ډیر په سختۍ ځان ځای کړ چا به دشاوچوخاوه:

وروره الږمخکې لاړشه...!!

بیابه چې مخکې راغې کلینډرپه وټپاوه :

وروره الږشاته لاړشه ...!!!

هغه په موټر کې همداسې په تکلیف و خوده دچا خبره په ځان نه اخیسته ، فکر یې دکورسره ؤ . موټر به چې چیرته برك کړ ده به ډریورته ورغږکړ :

استاذه ! زه په خیر .... ځای نشته .....

موټرد«قصه خوانی » بازار دتم ځای پرلوررسم شو ، دموټروسخته ګڼه ګونه وه ، سړك ټول بند ؤ، موټرګام په ګام ورو ورومخکې تلل ، دصابر کاکا زړه بیا په تنګ شو سوړاسویلی یې له خولې وخوت : یره ! بیخی ناوخته شو .....

موټرمخکې لاړ ——————

خو لادقصه خوانۍ تم ځای ته نه ؤ رسیدلی چې یوه نفر دډریورترڅنګ غږکړ :

وروڼوا داغوټه دچا ده ؟.......

ټول په چوکیو کې پورته شول خوچا ځواب ورنکړ بیا یې غږکړ

داغوټه دچا ..... ده ؟

خوداځل یې لاد..... دچاده ؟ جمله نه وه تکمیل کړې چې درزشو اودخاد دایجنټانو ایښودل شوی بم وچاودید ،ټول هرې خوا ټوټې ټوټې ولویدل ،دچا سرنه ؤ دچا پښه ، هریو په خپلو وینو کې لیت پیت پروت ؤ دصابر کاکا پر خاوروخیرن کالی په وینو سره رنګ شول اودکریم جان دبیا رغیدو آرمان یې دګورملګرې شو .

له یوه مجاهدقوماندان سره مرکه

پوښتنه :- محترم قوماندان صاحب ترټولو لومړی که دجهاد هنداری جریدی لوستونکو ته خپل ځان په لنډ ډول وروپیژنی ډیره به ښه وي

ځواب:- بسم الله الرحمن الرحیم
زما نوم مولوی الف گل اودپکتیا ولایت دزنه‌خیلو دسیمی اوسیدونکی یم اوفعلاً دافغانستان داسلامی حزب دزنه خیلو دعمومی محاذمسوولیت را په غاړه دی .

پوښتنه :- تاسی کله اودچا دقیادت لاندی په وسله وال جهاد پیل کړی دی ؟

ځواب :- مادشهید مولوی فتح الله سره نږدی اړیکی درلودی دداود دحکومت په دورکی می له مولوی جلال الدین حقانی سره هم ارتباط درلود چی دهمدغه ارتباط له مخی می دتره کی دکمونستی کودتا څخه (۱۰) ورځی وروسته دخوست دمستلبر په سیمه کی دمولاناجلال الدین حقانی ترقوماندی لاندی په وسله وال جهاد پیل وکړ او ترننه پوری دملحدینو پرضد په وسله وال جهاد بوخت یم .

پوښتنه :- اوس تاسی څومره مجاهدین ، درنه اوسپکه وسله په اختیار کی لری ؟

ځواب :- زما سره تقریباً (۱۰۰۰) تنه مجاهدین جهادکوی چی ددغو مجاهدینو څخه ځینی په خپلو کارونو بوخت دی خو دضرورت په وخت کی خپلو مرکزونو ته حاضریږي اوهم تر(۵۰۰) څخه تر (۶۰۰) میله پوری سپکه وسله اویوه اندازه درنه وسله می په واك کی ده .

پوښتنه :- دجهاد په دوران کی ستاسو ترقوماندی لاندی مجاهدینو کوم ،کوم ځایونه فتحه کړی دی اواوس په کومو سیمو عملیات کوی ؟

ځواب :- زمامجاهدینودیری په منطقه کی ډیری پوستی فتحه کړی ، چی دهغو پوستو له جملی څخه یې دزرمنکی پوستی په یادونه اکتفا کوم دیری اومانی په جنگونوکی چی قومانده یی زما په لاس کی وه مجاهدینو ډیربریالیتوبونه ترلاسه کړی وواواوس هم زما مجاهدین دخوست په لویی ولسوالۍ کی ددښمن پر پوځی مرکزونو جهادی عملیات کوی .

پوښتنه :- که دخپلی سیمی دمجاهدینو دخپل منځی یووالی په برخه کی څه رڼا واچوی ؟

ځواب :- زمونږپه منطقه کی دالله (ج) فضل اوکرم دی ټول مجاهدین چی دهر تنظیم پوری مربوط دی په اتفاق اواتحاد سره ددښمن پر ضد خپل عملیات ترسره کوی چی ښه مثال یی دنادرشاه کوټ درګی اودخوست دځړبند مکتب فتحه کول وو چی دټولو تنظیمونو مجاهدینو په هغه کی برخه درلوده .

پوښتنه :- دملحد حکومت منصبداراوعسکر چی مجاهدینو ته تسلیم شی ، دهغوی سره مجاهدین څه ډول سلوك کوی ؟

ځواب:- ددهری حکومت کوم افراد چی دجگړی په وخت کی مجاهدینو ته تسلیم شی نومجاهدین هغوی ته کالی ، جامی اودلاری خرڅ ورکوی اوکوم ځا ی ته چی دوی تلل غواړی هلته یی رسوی .
اوبل دملحد حکومت هغه افراد چی دجگړی څخه بغیر وختونو کی دخپلو وسلو سره مجاهدینو ته تسلیم شی نوهغوی ته خپلی وسلی اویا دوسلو په مقابل کی نقدی روپۍ ورکول کیږی ، ځکه چی دادهغوی حق دی .

پوښتنه :- محترم قوماندان صاحب په موجوده حساسو شرایطو کی دجهادقوماندانان باید څه وکړی ترڅو افغانستان دالله (ج) په مرسته اودمجاهدینو دقربانیو په بدله کی آزاد اوهلته یو سوچه اسلامی حکومت جوړشي؟

ځواب :- دجهاد مشرانو اوقوماندانانو ته پکاردی لکه څنگه چی الله (ج) په خپل کتاب قرانکریم کی فیصله کړی ده اوفرمایی :
تاسی جهاد وکړئ که په تشو لاسونووی اوکه په ډکو لاسوسره
نوټولو مجاهدینو ته پکاردی چی په هرځای اوهرډول حالاتو کی ددهریانو مقابله وکړی اوپه خپلو منځونوکی پوره اتفاق اواتحاد ولری چی دادی مونږ گوروچی دمجاهدینو دیووالی په سبب په اکثرو محاذونوکی ډیری لویی کامیابی اوبریالیتوبونه ورپه برخه کیږی اوپه مقابل کی دهریان نابود اوماتی سره مخامخ کیږی .

ټولومجاهدینو ته پکاردي چي په هرځاي اوهر ډول شرایطوکي ددهریانو مقابله وکړي اوپخپلو منځونوکي پوره اتفاق اواتحاد ولري

مردم کابل منتظر سرنگوني رژیم اند

درصورت اتحادرهبران جهادی حکومت کابل نمیتوانند دربرابران مقاومت نمایددرغیران حکومت کابل موقع خواهد یافت باین پروپاگند خودادامه دهد که رهبران جهادی که بخاطرکرسی باهم می جنگند چگونه میتوانند حکومت رادرافغانستان رهبری نمایند.

این مطلب رایکی ازدگ٠الان رژیم کابل که دریـن اواخر به پیشاور هجرت نموده است ضمن مصاحبه با خبرنگار یکی ازرادیو های ابرازنموده ضمن توضـ ح وضع کنونی سیـ سی واقتصادی واجتماعی شهرکابل گفته است تشویش اهالی شهر کابل با فرارسیدن فصل سرما بیشترگزدیده کمبودوسایل محروقاتی ازهمین اکنون محسوس میباشد.

موصوف گفته است : شفاخانه ها ازداکتران وادویه خالی بوده وافراد بی رابطه وبی واسطه نمیتوانند مریضان خویشرا تداوی نمایند . مردم ازبام تاشام برویت کارصرف میتوانندسه قرص نان نیم پخته رابدست آورند .

دگروال مهاجرمذکورگفته است شهریان کابل ازرژیم متنفربوده ومنتظر سرنگونی آن اند.

اهالی شهر بخاطری علیه رژیم قیام وتظاهر نموده نمیتوانند که افراد «خاد» یا «واد»خیلی زیادبوده وازهرچارنفر یک آن جاسوس رژیم است.

دنړیوال صهیونیزم یوه خطرناکه دسیسه

دپاکستان مشهوری اونیزی«زندگی » په وروستۍ ګڼه کی دنیمی وچی مشهوراوسترناول لیکونکی ښاغلی نسیم حجازی یوورکوټی مضمون خپورشوی ، هغه په دغه لیکنه کی دپاکستان دتیرحکومت کړنلاری ته گوته نیولی اوپه دی ترڅ کی یی له یوه دردناك اوځورونکی حقیقت نه پرده پورته کړی موږدغه مطلب چی دماشومانو تښتول ترسرلیك لاندی داسرائیلو دناولو عزایمو په باب دی دجهادهنداری گرانو لوستوالو ته بیله کوم تعرف نه وړاندی کوو. (اداره) :

دماشومانو دتښتولو پیښی ترویرونکی سرحده پرمختګ کړیدی ،داسی څرګندیږی چی دپاکستان شمالی خواوی دمریانو دتجارت په هډو بدلیږی تیر کال لیکوال «حجازی » دماشومانو دتښتولو په باب له بی بی ، سي راډیو نه یومفصل پروگرام واورید ، په دغه پروگرام کی ویاند وویل چی دکوچنیو ماشومانو ترټولو ستر پیرودونکی اسرائیل دی دتښتول شووماشومانو لپاره یو اسرائیلی پیرودونکی دیوه عادی توررنګی ماشوم لپاره پنځه ویشت زره ډالرّبیه ورکوی ، اوڅومره چی دماشوم رنګ سپین والی ته مایل وی هومره یی بیه لوړیږی ، دمثال په توګه په کومو ماشومانو چی داروپایی شك کیږی نودهغوی بیه تریولك ډالروپوری هم رسیږی
-له دی خبری نه داثابتیږی چی لکه په پخوازمانو کی چی دمریانو پلورل اوپیرودل اوسوداګری منظم بازارونه وو دغسی اوس دماشومانو خرڅول اواخستل دیوی سوداګری بڼه غوره کړی ده .
کوم ماشومان چی اسرائیلو ته رسیږی هغه دیوه منظم روزنیزاوتعلیمی پروگرام له مخی یهودی کیږی - اودهغه په زړه کی دغیر یهودیانوپرخلاف دنفرت اوغصی جذبات پاللِ کیږی زما خیال داڅ چی په دی باب به زیاتی څرګندونی اوافشاګری وشی ، خوددی پروگرام له اوریدو وروسته ماته د بی، بی، سی راډیو دنوروپروگرامونواوریدلو موکه په لاس رانه غله ، دایوه ډیر مهمه مسئله ده ځکه ټولی نړۍ اوپه ځانګړی ډول اسلامی نړۍ ته لازمه ده چی په دی باب خاصه توجه وکړي ، که دده خطرناکی فتنی په باب دنړیوالو عمومی نظرراوپا رول شی نو دهغو ځایونو اولارو پته به هم ولګیږی په کوموچی اسرائیلو ته ددغه شوم تجارت لری

په کوموماشومانوچي داروپایي شك کیږي نو دهغوي بیه تریولك ډالرو پوري هم رسیږي

په (۷)مخ کی

دافغانستان ربړه او ...

جهاد اوبی دریغه قربانی په زورله افغانستان څخه تیښتی ته اړ شول جنیوا معاهده هسی دروس دماتی پټولو لپاره یوه نړیواله دسیسه وه . «ژباړن »

دغه تړون په پوره بیوالی دافغان مجاهدینو ټولو ډلوردکړ همدارنګه دهغه وخت دپاکستان حکومتی مقاماتوترمنځ په دی تړون سخت اختلافونه راولاړشول ددی تړون پر سر دشهید جنرال ضیأ الحق اوصدراعظم جونیجو ترمنځ اختلاف رای له دی نه ښه څرګندېږی چی دځینو معتبرو اوباوری سرچینو په حواله دجونیجو دحکومت ړنګولو ستره وجه دجونیجو حکومت لخواددغی تړون لاسلیکول وو.

ځکه شهید جمهوررئیس جنرال ضیأ الحق پوهیده چی په تړون کی دافغانی غازیانو ګټی نه دی تضمین شوی هغه غوښتل چی په تړون کی دنجیب دحکومت له منځه تلل اودمجاهدینو دعبوری حکومت جوړیدل هم ځای کړی - ترڅو ماتی سره مخامخ وو. ددی تړون ترپوښ لاندی دبا عزته په شاتګ لقب ورپوری شو .

امریکاچی له افغانی مجاهدینو سره ملاتړکاوه له روسیې سره پر تفاهم موفق شول اوبیا یی له خپلی پخوانۍ پالیسی څخه نه یوازی سرغړونه پیل کړه بلکی ورسره سم روس اوامریکاپردی ټکی کې هم متفق شول چی په افغانستان کی باید دمجاهدینو په لاس اسلامی حکومت جوړنشی ،ترڅو په دغه سیمه کی اسلامی غورځنګ وده ونه کړی اودمنځنی آسیامحکوم اسلامی ریاستونه چی له نیمی پیړۍ نه زیات دکمونیزم ترجال لاندی داسارت شپی سبا کوی ددغوغورځنګونو په څپوکی دآزادۍ لپاره رااوچت نشی .

چی ددی دلیل ثبوت په خپله په روس کی دنویواصلاحاتو په لړکی دروس پر خلاف دراولاړشویودوومختلفو غورځنګونو په وړاندی د دوومختلفو

> دافغانستان اوسنی مزدورواکداران په راتلونکی اقتدارکی شریکول دامعنی لری چی مجاهدینو داټولی قربانی یوازی داقتداردڅوکی دلاسته راوړلولپاره ورکړی وی -

مهاجرین په عزت اووقار خپل هیواد ته ستانه شی اودافغانی غازیانو قربانی بی ځایه ولاړه نشی .

حقیقت هم دادی چی دغی معاهدی دافغان مجاهدینو موقف له سختو ستونزو سره مخ کړ اوکلونه کلونه چی پاکستان پرکوم دریغ ټینګارکاوه هغی ته هم سخته ضربه ورسیده ، اوبیا داچی دربړی دحل سبب هم نه شو البته روسان چی دافغانی غازیانو دتوری په زورله عکس العملونو څخه ترلاسه کولی شو.

دبالتیك دریاستونو ، استونیا ، لیتوانیا ، ... دخپلواکۍ غورځنګ نه یوازی دامریکاله ملاتړنه برخمن ؤ بلکی دروس لخواهم په ډیره نرمۍ له هغی سره برخوردوشو .

امریکااخطارورکړکه ددغوریاستونودخپلواکۍ غورځنګ ته کوم نامناسب ځواب ورکړی،

«نوربیا»

روسیه گازافغانستان را ...

بعد ازمطالعه دقیق طرح پروژه تمدید گازبه کابل رابه وزارت معادن‌و صنایع ارایه نمود وتجویز شده بودکه یك دستگاه تولید برق حرارتی بااستفاده ازانرژی گازی بکارافتاده به سایر بخشهای کشوربرق برساند .

یکی ازانجینران روسی که صلاحیتدار وزارت پلان بود با بدست اوردن پلان مذکورازمتحصصن ملل متحد انگیزه طرح این پلان راجویا شده انرا برای همیشه ازبین برد .

صرف یك هفته قبل ازانجام کودتای روسی، روسها طبق برنامه طرحریزی شده یك تعداد قراردادها رادررابطه به گازپترول ومعادن بطرف افغانی تحمیل نمودند .

نویسنده می افزاید: درجوزای سال ۱۳۵۸ دوصدماهرروسی به شمال افغانستان واردشدند تاکنترول کامل تولید وصدورگازرابدست خویش گیرند .

درسال ۱۳۵۹ متخصصین بیشترروسی وارد افغانستان شدند وحجم تولید گازراشصت، وپنج درصد بازهم بلند بردند .

درموافقه طرفین حد اوسط سالانه صدورگازبه روسیه تاسال ۱۳٦٤دواعشاریه پنج ملیارد مکعب متر تعین گردیده بوداما روسها با قبضه برذخایر گازکشورتصمیم گرفتند تاازحجم صادرات گازسلفر دارخواجه گوگردك کاسته شده ودرعوض برصادرات گازجرقدق که جنسیت خیلی عالی دارد بصورت فوق العاده افزایش بعمل اید . همچنان روسها این تصمیم رانیز اتخاذ نمودند که قیمت گازبه عوض پر داخت بطرف کمونست ها درقروض وربح ان محاسبه گردد ، که این امر تجاوزصریح وعلنی ازماده پنج قراردادسال ۱۳٤۷طرفین میباشد .

برعلاوه دهها تجاوزازمتن قرارداد، روسها با کنترول برتمام منابع گازوسیستم انتقال ان اندازه وحجم انتقال ان به خاك روس را نیز محرم نگهداشتند .

قیمت ایکه روسها هرهزار مترمکعب گازتعین و«گویا» می پردازند خیلی هاکمتر ازنرخ بین المللی گازمیباشد روسها از۱۳٤۹تاسال ۱۳۵۳ به هرهزار مترمکعب گاز(۱۷) سنت می پرداختند درحالیکه درموافقتنامه صراحت یافته بود که قیمت گازباید درهرسال تجدید گردد.

بعداً قیمت گازبه (۳٤) سنت بالارفت درحالیکه روسها گازایران را درعین وقت به قیمت سه برابر ان می خریدند .

روسها درزمان قبل ازکودتای کمونستی شان درکابل دربرابرتقاضای حکومت های افغانی بخاطر افزایش قیمت گاز سخت مقاومت نمودند اما اندکی قبل ازکودتای مسکو درکابل برهبری کمونیست ها، طبق پلان قبلی قیمت هرهزار مترمکعب گاز(۱.۵) دالر تعین گردید که درمقایسه به ارزش بین المللی گازیك مقابل پنج بود . درزمان حکمرانی نجیب روسهااین ارزش رابه (۲.۵) دالر بلند بردند درحالیکه همین گازافغانی راروسها دراروپا به (۵.۱۰) دالر به فروش میرسانند .

نویسنده افغانی می افزاید بررویت اسنادروسها ازسال ۱۳۵۸باینطرف همه ساله ازهفتاد وپنج تایکصدوپنج بلیون مترمکعب گازازافغانستان به روسیه انتقال داده اند .

برای روسها این مقداربسنده نبوده اخیراً پلان داشتند که درحجم انتقال گازبه اندازه شصت وپنج درصد بازهم افزایش دهند چنانکه انترنشنل پترولیم انسایکلو پیدیا، ضمن نشر حقایق جنایتبار روسها دربخش گاز افغانستان نوشته است که روسها درسال ۱۳٦۲یکصدوهشت تریلیون مکعب متر گازرا ازافغانستان به روسیه انتقال داده اند .

حقایق فوق چهره خیانت کارانه روسهای استعمارگر را که درعقب به اصطلاح دوستی همسایگی نیك پنهان کرده اند رسوامی سازد .

قبل ازکودتای کمونستی درکابل نیزخیانت های روسهادرشمال افغانستان درمیان روشنفکران موضوع داغ بوده اما ازانجایکه حکومت ها نماینده واقعی ملت مسلمان مانبودند نتوانستند مشت بدهان روسها کوفته حقوق مسلم ملت خودرا بدست اورند .

ازدوازده سال باینطرف نیز که نوکران حلقه بگوش روسها برسرنوشت ملت مسلمان افغانستان رهزنانه حاکم شده اند این خیانت به پیمانه وسیع وبی سابقه ادامه یافته وهر تصمیم خائینانه که روسها دررابطه به مقدرات کشورما گرفته اند کمونست های گوش به فرمان نوکرمنشانه به تائید سرتکان داده اند .

ملت مجاهد افغانستان همانطوریکه کمونیزم روسی رادرکشورخودبزانو در اورده‌اند روزی فراخواهد رسید که قیمت ان همه منابع معدنی کشورراکه به یغما برده است سرازنو محاسبه نمایند. قابل تذکر است بعد ازانکه قوای روسی ازافغانستان رانده شدند جریان صدورگازبه روسیه معطل گذاشته شده بود .

> **انترنشنل پترولیم انسایکلو پیدیا، ضمن نشر حقایق جنایتبار روسها دربخش گاز افغانستان نوشته است که روسها درسال ۱۳٦۲یکصدوهشت تریلیون مکعب متر گازرا ازافغانستان به روسیه انتنال داده اند .**

❀❀❀❀❀❀❀❀

دمجاهدینو په یوه بریالۍ برید کې ددښمن (۱۵۰) تنه په هلاکت ورسیدل

درارسیدلو رپوټونو له مخی نومیالیو مجاهدینو دعقرب په (۲۵) نیټه دهلمند په ولایت کی دملحد رژیم پریوه کتار چی دلشکرګاه څخه دکندهارپه لورروان ؤ ،حمله وکړه . ددی حملی په نتیجه کی ددښمن (۱۵۰) تنه وژل شوی اولس لاریۍ سره ددووجیپ موټرو دمجاهدینو له خوا نیول شویدی برسیره پردی نهو تنو عسکرو خپل ځانونه مجاهدینو ته تسلیم کړل

دنړیوال صهیونیزم ...

روانه ده ، زما باوردی چی په دی باره کی به نوری خپرونی هم شوی وی ،خومانه دی اوریدلی ، کوموکسانوته چی په دی رابطه څه نوی اطلاع وی هغه باید په دی باب خپل قلم وچلوی .

دکوهستان ...

اونومورړی ولسوالی دکابل رژیم له ناولو منګلو څخه پاکه شویده.

دمجاهدینو خبری سرچینو درپوټ سره سم څه موده مخکی دکوهستان ولسوالی اتلو مجاهدینو دروسی مزدورانوپر پوستو حملی وکړی چی دعقرب تر۱۸ نیټی پوری یی دوام درلود .

ددی اوږدی جګړی په ترڅ کی ددښمن یو هلیکوپتر اویوه باروړونکی الوتکه دمجاهدینو ددافع هوادوزوله امله نسکوری شوی اودرژیم ۱۵تنه ځپل شوی او۴۲ تنه یی زخمی شویدی.

خبرزیاتوی درژیم دنیول شووپوستو څخه (۱۵۰) میله کلاشینکوفونه ، دری میله دهشکی ، دری پوځی لاری اوزیات شمیرجنګی مهمات دمجاهدینولاسته ورغلی دی.

پدی جګړوکی دمجاهدینو له خوا (٤) تنه شهیدان او (۱۵) تنه ټپیان شویدی. دهرات په ګوټ ګوټ کی دمجاهدینو عملیات دوام لری .

دشهیدجنرال ...

ددولت پخوانی وزیر ملك فاروق ، اوپنجاب دجیلخانو دچاروپخوانی وزیرمیا ریاض حسین پیرزاده، یی هم په تفتیش کی شامل کړی دی .

خبرزیاتوی چی دغه دواړه پخوانی وزیران ایف آی اے دتحقیقاتو اوتفتیش دفتر ته راغوښتل شویدی په دی برخه کی دملك فاروق خبری هم ثبت شوی دی اوس پورتنی اداره ددی تحقیق کوی چی ایا دالذوالفقارورانکاري ډله

دپخوانی جمهوررئیس ام سی ۳۱ الوتکی په له منځه وړلو اوتباه کولو کی لاس لری اوکه نه ؟

که موپه یادوی د(۱۹۸۸) ع کال داګست په ۱۷ نیټه دپخوانی جمهوررئیس شهید جنرال ضیاالحق بهاولپورهوایی ډګر ته درسیدلو پر وخت ترټولو دمخه هغه ته ملك فاروق اعظم اومیا ریاض پیرزاده هرکلی ویلی ؤ .

برسیره پردی ملك فاروق اعظم هغه څوك ؤ چی له جمهوررئیس شهید ضیاالحق سره یی خدای پامانی هم کړی وه.

نودهزارانسان درمحابس رژیم کابل

اکنون هم درحدود نودهزارتن بنام زندانی سیاسی درمحابس رژیم کابل محبوس میباشند.

این مطلب دریك راپورملل متحد که درارابطه به وضع حقوق بشر درافغانستان انتشاریافته آمده است .

اگر ساحه تحت اشغال رژیم کمونست کابل ونفوس دران با تعداد زندانیان سیاسی مقایسه گردد نشان میدهدکه این بیشترزندانی درطول قرن خواهد بود .

واگر شمارنفوس کشوررامدنظرگیریم ازهر ملیون تن بیش ازهزارنفر درزندان رژیم ملحد کابل به اتهام دین پروری وآزادی وطندوستی بسر می برند.

ټومیالی قوماندان ...

یوه ستره ضایع بولو شهید ته دلوی خدای(ج) په دربارکی دمغفرت اوکورنی ، خپلوانو ، دوستانو اوخواخوږیو ته یی دجمیل صبر غوښتنه کوو او ځان ورسره په دی سترغم کی شریك ګڼو

دهئیت تحریر ترنظرلاندي
مسوول مدیر: شهرت ننګیال
مرستیال : سیدمحي الدین هاشمي
مکاتباتي پته : پوست بکس (۱۰۳۳)
یونیورستي ټاون پیښور
ټیلفون ....(٤۱۷٤٦) ....

پرتاب ماهواره جاسوسی آمریکا

واشنگتن :

امریکا یك دستگاه جاسوسی راجهت کشف استعداد وسوقیات نظامی عراق به فضاپر تاب کرده است .

طبق اطلاع مطبوعات پرتاب این دستگاه جهت وارد نمودن تغیرات دران مدتی به تعویق انداخته شد . قرارگزارش ایالات متحده فعلاً شش دستگاه فضایی جاسوسی دیگر نیز درمنطقه دارد.

محمدﷺ وقران...

یکی ازنویسنده گان مسلمان هند بنام رفیق ذکریا نوشته شده درماه اپریل سال آینده به بازارعرضه خواهد شد .

کتاب«محمد وقران » که دارای هفتادهزارکلمه میباشد درمطبعه «پنگوین»لندن که کتاب سلمان رشدی نیز درانجا طبع گردیده بودچاپ خواهدشد .

قابل ذکر است که سلمان رشدی بعد ازنګارش کتاب کفرآمیزش ازخوف مسلمانان به حمایه پولیس انګلستان دراختفابسر می برد زیرا مسلمانان وی رابمناسبت تحریراین کتاب واجب القتل دانستند .

له کویټي ...

اومتحده آماراتو کی تربیه کیږی هغه داآوازه هم تصدیق کړه چی ډیرزربه دجلاوطن کویټی حکومت حکام ایف (۱۸)الوتکی ترلاسه کړی. همدارنګه دهغوی (٤۰) الوتکی پخوا په سعودی عرب کی موجودی وی اوفرانسوی انجینرانو یی دترمیم چاری په غاړه اخستی وی .

اخبار دامریکایی اواسرائیلی پټو شبکو دماهرینو په حواله لیکی چی عراق دځنو داسی تخنیکی وسایلو دواردولو په لټه کی ؤچی داتومی بمبو په جوړولو کی په کاریږی اوکم ترکمه له دووکلونو وروسته به عراق داټومی وسلو په جوړولو بریالی شي.

په خوست کی...

کلا بند پوځونو ته مهمات ورسوی خو دمجاهدینو د جګ خولو توپو ډزو له امله ولګیده اوله منځه ولاړه

وروستی فرصت نوي ...

خودوروستی چانس اوفرصت په توګه دحالاتو دجدی غوښتنی اوضرورت له مخی داتوقع کیدله چی دخپل منځی اتحاد په رابطه موجوده حرکت به که خدای کول څه ناڅه نتیجه ضروروركوی .

اوداسی ښکاریدله چی نورنوقیادتونه هغه خطر اوګواښ ته متوجه شوی چی هم جهاد تهدید وی هم ولس اوهم قیادتونه اوددوی دواکمنیو واګی اوقدرت چوکاټونه خومعلومیږی داسی چی بیا هم داتحاد په اړه منځ ته راغلی جریان دمیلمستیاوله ساحی ونشووتلی اوپه عملی ډګرکي یی کومه دحساب وړنتیجه اوبدلون ترسترګو نشو .

دعبوری حکومت وضعه هماغسی درکود اوبن بست په تیاروکی ورکه ده په سیاسی سطحه دروس - امریکا دتوطئو اوسازشونودتوپانونو په څپو کی بیاهم دهیڅ ډول متحد دریځ اوحرکت څرك نشی لیدل کیدی اودیوه رښتنی ، موثر ،قوی اودوامداره متحد جریان اوقوت درامنځ ته کیدو په اړه دڅو میلمستیاووپه جریان کی داټول امیدونه اوحرکتونه هم هضم شوی ښکاری .

خواصلی خبره پدی کی ده چی موسمی حرکتواویادکوم فشارله امله داتحاد له پاره دڅو مجلسونواعلامیو اوناستی ولاړی نشی کولی داختلافاتوله لاسه زمونږ دملت پرتپر خوړلی زخمونه روغ کړی اوهمدا علت ؤ چی تراوسه زمونږ اتحادونو اوحکومتونوهغه خلاډکه نشوای کړای چی پدی رابطه مقاومت ورسره مخامخ ؤ .

ترڅو چی دیوه واقعی اتحاد له پاره پرجهاد اوولس دزړه سوی اودمسوولیت عواقبو ددرك له مخی داتحاد پر پروسه فکر ونشی اودټولوګوندی اوشخصی ملاحظاتو څخه مخ وانه ړول شی دهغه اودغه فشاراوآنی ګټو پربنا منځ ته راغلی حرکتونه نشی کولی زمونږولس اوانقلاب داختلاف له مصیبت څخه وژغوری. پدی هکله یواځینی موثر ، منطقی اوسترګام دقوماندانانو هغه شوراګانی دی چی په پکتیاکی یی ددومخکنیو غونډوپه جریان کی دریمه غونډه دبدخشان په توپخانه کی په بریالیتوب پای ته ورسیدله .

اوداهغه وروستی امید دی چی دولس په زمولیدلو هیلو کی به دژوند سا پوکی، ځکه تیردوولس کلونه له هغه ترخه انتظارڅخه ډکه وچی ولس له قیادتونو څخه د وحدت په اړه درلود خو له بده مرغه بیا هم : دقیادتونوله خوا دولس دغه یواځینی انتظارته مثبت ځواب ونه ویل شو اواوس به که خدای کول ددغه اوږده اوترخه انتظار مزي دجهاد قوماندانان دخپلو انقلابی اومتحدو پریکړو له مخی لنډوي اوولس ته به دیوه واحد قیادت ، متحدی ستراتیژی اوګډی قوماندی زیری ورکوی .